سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰٤/۱۷

# سوله د نظام د جوړښت د پاره
## نه د نظام د تخریب د پاره

د امریکا دولت ولی په ۲۰۰۱ کال کی په افغانستان حمله وکړه او ولی یی د طالبانو حکومت او واک له پښو و غورځاوه؟

دکاناد د انتاریو د ایالت د تورنتو په مرکزی لوی ښار کی د اپریل د میاشتی په دیارلسمه نیټه د ګڼو هغو افغانانو په ګډون، چی په هیواد کی د تل پاتی سولی غوښتونکی دی او د تیرو اته لسو کالو په اوږدو کی جوړ شوی او د وطن د زامنو په وینود ساتل شوی نظام، نه د ملاتړ په نوم یو تحلیلی کنفرانس جوړ شو او تولو ګډونکو د مؤقت دولت د منځ ته راتلو او دموجود دموکراتیک نظام قربانی کول د سولی د تامین په نوم معامله کی په شدیدو الفاظو وغندله او ټینګاریی وکړ چی افغان ولس په هیڅ وجه داسی سوله نه غواړی هیواد کی موجد دموکرتیک نظام او د دولس مدنی حقونو او د ښځو حقوقو ته پکی زیان ورسیږی. دا لیکنه ما په همدی کنفرتنس کس و لوستله او د تاسو درنو لوستونکو سره یی هم شریکوم.

لویه بهانه همدا وه چی د طالبانو رژیم د نړیوالو اصولو پیروی نه کوی، هلته یوداسی نظام شتون نه لری چی انسانی حقونه او نړیوال حقوقی نورمونه پکی مراعات شی. هلته د هیڅ انسان د پاره حقوقی مصؤنیت نشته او بلاخره د طالبانو په وجود کی نړیوال تروریزم ځانته ځای پیدا کړیدی او له همدی ځایه ( افغانستان له خاوری) د نړی امنیت د تهدیدی سره مخامخ دی.

کله چی د القاعدی د ډلی له خوا د افریقای د لوی وچی د کینیا او تانزایا په هیوادونو کی د امریکا په سفارتونو حمله وشوه، نو په ځواب کی د کلنتن اداری په افغانستان کی د القاعدی په رونیزو مرکزونو راکتی حمله وکړه او اخطاریی ورکړ چی د دی ډلی جرړی به چی په هرځای کی وی له بیخه را وباسی.

کله چی په ۲۰۰۰ وم کال کی د نیویارک په ښار کی د نړیوال بزنس تجارتی بیلډینکونه د یوی تروریستی حملی په نتیجه کی را و نړیدل او په زرګونو بی ګناه انسانانو پکی خپل ژوند له لاسه ورکړ، نوکه دا کارهر چا وکړ، خو امریکا یی پړه په القاعدی ور واړوله، او د القاعدی مشر دا وخت په افغانستان کی د طالبانو تر حمایی لاندی ژوند کاوه. امریکا د طالبانو نه و غوښته چی عثامه بن لادن دوی ته ور وسپاری، طالبانو د امریکا غوښتنه و نه منله، نو د بوش اداری په چټکی سره د طالبانو د رژیم د را پرزولو پلان جوړ او په خوورځو کی یی عملی کړ. خو امریکا ولی دا کار وکړ؟ دا ځکه چی هلته یو داسی نظام چی په انسانی اصولو ولاړوی وجود نه درلود.

تردی وروسته امریکا د یوه نظام د جوړېدو په منظور د المان د بُن په ښار کی د څو ډلو یعنی د پخوانی پاچا محمدظاهرشاه ډله، د مقاومت په نوم د شمال ټلوالی ډله، د قبرس ډله، او د پېښور له ډلو څخه بی د طالبانو د ډلی نه د حامد کرزی په مشری چی خپله یی په غونډه کی ګډون هم نه درلود، یو موقت حکومت د افغانستان په ملت ور وتاپه. خو دا پوښتنه لا تر اوسه په ځای پاتی ده چی امریکا د طالبانو حکومت را نسکور کړ خو ولی یی و نه شو کولی چی د القاعدی مشر عثامه بن لادن ونیسی؟ ډیر سیاسی کتونکی په دی باور دی چی بن لادن او د طالبانو مشر ملا محمد عمر لا د امریکا د حملی نه د مخه د پاکستان نظامی چارواکو په خپل هیواد کی مصؤن ځای ته رسولی وو. (ممکن دا هم د امریکا په خوښه شوی وی)

بله پوښتنه داده چی ولی د کرزی په مشری د اموقت حکومت جوړ شو؟ ځواب یی دادی: ځکه دا مؤقت یا عبوری حکومت جوړ شو چی هلته د یوه داسی دولتی سیستم د را منځ کیدلو د پاره اړتیا وه چی په نړیوالو نورمونو برابر وی. د کرزی په موقت حکومت کی هم د طالبانو ډلی ته برخه ور نکړله شوه (شاید دا کار هم د راتلونکو پلانونه د پاره قصداً شویوی)، د دی موقت یا عبوری حکومت په وخت کی په (۲۰۰۳) م کال کی په افغانستان کی نوی اساسی قانون جوړ او نافذ شو.

د دی قانون له مخی د هیواد د ټول چارو د پرمخ بیولو د پاره، د نړیوالو اړیکو د ساتنی سره یو ځای فرعی قوانین را منځ ته شول، د جمهوری ریاست انتخابات تر سره شول، منتخب مرکزی پارلمان او ولایتی پارلمانونه جوړ شول، تقریباً د ټولی دنیا سره سیاسی ارتباطات قایم شول، ښونځی او پوهنتونونه د نارینه و او ښځینه ځوانانو په مخ پرانستل شول، په پراخه توګه ټولیزی رسنی یا سوشیال میډیا منځ ته راغله، د مدنی حقوقو د ساتنی اداری جوړی شوی، دهیواد په ټولو اداری او ټولنیزو کارونو کی د ښځو برخه اخستنه عملی شوه، قانونی نظم را منځ ته شو او په مجموع کی افغانستان د نړیوالی ټولنی د پراخی مرستی په نتیجه کی د یوه ښه دولت او دموکراتیک نظام لرونکی شو.

ناڅاپه پس له اوو اتو کالو وروسته د پاکستان دولت چی د خپل پیدایښت نه بیا تر ننه پوری یی د افغانستان د خلکو او دولتونو د پاره د ستونزو د پیدا کیدو وظیفه په غاړه اخستی ده، له صحنی وتلی او په قصدی توګه د افغان نوی دولتی تشکیل نه بهرساتل شوی طالبان یی د معلومو عربی هیوادونو او افراطی حلقاتو په مرسته بیا سره را ټول کړل، په کوئیټه او پېښور کی ورته شوراګانی جوړی کړی، ټول جنګی امکانات یی ورته برابر کړل، په پاکستان کی د پرتو مهاجرو اولادونو ته یی د مغز پریمینځلو زرګونه مدرسي د اسلامی علومو د زده کړی تر نامه لاندی فعالی کړی، د افغان د نوی نسبتاً آرام دولت، د ثبات د پاره یی لکه د پخوا په څیر چی د مجاهیدینو وسله والی ډلی یی د روس پلوه افغان رژیمونو د بی ثباته کولو په بهانه  افغانستان ته د تخریب د پاره را لیږل، تر هغی په ځوچنده زیات قهر او غضب سره یی د انتحاری حملو په شمول، تروریستی ډلي د مرګ، ژوبلی او بر بادی د پاره تر ننه پوری افغانستان ته را ولیږل او د افغانانو د وینو له توئیدو نه یی خوند واخست.

د امریکا دولت دی ډلی ته د نړیوالو تروریستانو نوم ورکړ، د دوی د مشرانو په وژلو یی انعامونه کینودل او ګڼ شمیر یی د ملګرو ملتو په تور لست کی ور داخل کړل. همدارنګه د دوی د سرکوب د پاره یی د خپلو ټولو نظامی متحدینو ( ناټو د سازمان) نه هم وغوښتل چی په افغانستان کی د نظم د ساتنی د پاره ورسره ملګری شی. دا کار سرته ورسیده او د څلویښتو نه ډیرو هیوادونو نظامی ټولګی افغانستان ته راغلل او په ټول هیواد کی د امنیت ساتنی په نامه خواره واره دیره شول. دی نظامی ځواکونو په شریکه د افغانستان د ملی او امنیتی ځواکونو په روزنه

او پالنه کی هم برخه واخسته، چی دا کار تر ننه پوری ادامه لری. طالبانو او نورو یاغی قوتونو سره دی هیوادونو هم په زرګونو خپل بچیان له لاسه ورکړل، ستر مالی لګښتونه یی وکړل او ورسره یی افغان ولس هم دډیرو غمیزو سره مخامخ کړ.
افغان دولت او افغان ولس په دی ټوله موده کی امریکایی مقاماتو ته چیغی و وهلی، فریادونه یی و کړل چی د ټولو تروریستی ډلو مرکزونه په پاکستان کی دی. امریکا او ناتو دی په پاکستان فشار راولی چی په خپله خاوره کی دا مرکزونه و تړی. خو سړی نه پوهیږی چی ولی د امریکا هیڅ زعامت د اغږ وا نه وریده. دوی پخپله بن لادن د پاکستان یوی فوزی اډی ته نژدی و واژه، خو تر هغی وروسته یی هم دا و نه منله چی پاکستان په سیمه کی د تروریزم لوی حامی، ساتونکی او د ځینو عربی هیوادونو په مرسته تمویلونکی هیواد دی.
په ۲۰۱۸ کال کی د جمهورئیس دونالد ټرمپ اداری تصمیم ونیو چی په افغانستان کی د سولی د تامین په منظور د طالبانو سره مخامخ خبرو ته تیار دی. دی تصمیم ته د بل هر چا نه افغان دولت لا د پخوا نه ډیر کار کړی و او افغان ولس ورته د زړه له کومی هرکلی و وایه. د افغان امریکا یی ډاکټر زلمی خلیلزاد په مشری د طالبانو سره د دی خبرو پیل افغان دولت او افغان ولس ځکه په نیک فال و نیوه چی د طالبانو له سقوط را وروسته د بل هر امریکایی چارواکی څخه دا ښاغلی د افغانستان په مسایلو او د پاکستان په ورانونکو اهدافو ښه بلدیت درلود، اوپه پاکستان باندی دا تصمیم ځکه ښه و نه لګیده چی د ډاکټر زلمی خلیلزاد د پاکستان په شرارت باندی یو پوه کرکټیرو.
په هر صورت دا خبری پیل شوی او تر ننه پوری دوام لری، خو هره ورځ چی په دی خبرو تیریږی، د افغانانو په زړونو کی نوی شکونه را پیدا کیږی او هغه هم له دی کبله، چی د سولی د خبرو د پاره د هرچا په مخ، حتی د افغان غلو او چپاولګرانو د پاره هم د سیاسیونو په نوم دروازی خلاصی شوی خو د افغانانو منتخب دولت چی د سولی اصلی طرف دی،لا هم د دی خبرونه بیرون پاتی کیږی.
د سولی د خبرو د بیلو بیلو مرحلو نه داسی را ښرګنده شوه چی د متحده ایالاتو دولت په افغانستان کی د تل پاتی سولی سره دومره علاقه مند نه دی خو یواځی د طالبانو سره د خپلو هدفونو د پاره چنی وهی. دوی ته هماغه دولت اوهماغه نظام چی دوی د افغانستان د خلکو د پاره جوړ کړیدی او د تیرو اوه لسو کلونو په اوږدوکی دهمدی نظام د ساتنی د پاره په سلونو زرونو افغان ځوانانو خپل سرونه قربان کړل، نن دومره بی ارزښته شو چی د پاکستان دولت یی د تغیرولو د پاره په ښرګنده توګه په رسمی محافلو کی خپلو ګوډاګیانو ته زیری ورکوی.
خو د افغانانو د پاره دا دولتی نظام په نړی کی یو هویت دی، د افغان ولس د پاره دا دولتی نظام د هغوی د مادی او معنوی شتمنیو مجموعه ده، افغان ولس ته دا نظام چی د هری کورنی د زړه د ټوټی د وینو په توئید را جوړ شوی او ساتل شویدی، د مور،پلار، ورور، خور او اولاد حیثیت لری، افغان دولت د چا د چپنی، د پګړی او څادر، د جا د دریشی او نیکټای او د چا د امسا او ږیری محصول نه دی. دا دولت د کرزی، غنی، عبدالله محقق، دوستم، اتمر، سیاف او نورو او نورو د اولادونو په وینو نه دی ساتل شوی، د دی د ولت د ساتنی په لاره کی هره ورځ او حتی همدا شیبه د ټول افغان قومونو د ګلانو په څیر د تنکیو ځوانو اولادونو وینه بهیږی. د دی نظام ساتل افغانانو ته د عزت د ساتلو مفهوم لری او د افغان د پاره د عزت د ساتنی په ارزښت یواځی هغه اصیل افغانان پوهیږی چی په سینه کی انسانی زړه او په زړه کی د خپل وطن سره انسانی مینه لری.
که طالبان ځانونه افغانان بولی، که طالبان د پنجاب د نظامیانو او د عربی شیخانو اجورتی سرتیری او مزدوران نه وی او که طالبان دا باور لری چی افغان ولس یی تر شا و لاړ دی نو تر ټولو د مخه باید د خبرو د پاره د پردیو د درګاو په ځای دخپل ملک ښارونه کندهار، هرات، کابل، مزار، جلاباد، ګردیز، فیض آباد او نور او نور او ټاکی. که د مصونیت ویره لری نو د دولت سره دی د تضمیناتو سره اوربند وکاندی او په افغانانی دود دستورسره دی د سولی خبری پر مخ یوسی.
مونږ پوهیږو چی طالبان په دوه وجهو دا کار نشی کولی، اول داچی دوی استقلالیت نه لری او دویم داچی دوی د افغان ولس په منځ کی د ناستی ځای نه لری.

طالبان ولی په دی خبره ټینګار کوی چی د افغان دولت سره خبری نه کوم؟ دا ځکه چی دوی پوهیږی چی افغان دولت د دوی سره د مدنی نړیوالو حقوقو او د افغانی کودونو د اساساتو له مخی د خبرو میز ته کښینی ، او دوی اصلاً په دی اساساتو نه پوهیږی. دوی ولی په وطن کی د ننه دا پروسه پر مخ نه بیایی ؟ دا ځکه چی دوی د بل چا په اراده خبری کوی.

اوس چی دی ټولو حالاتو ته سری ګوری نو په دی متیقن کیږی چی د سولی دا خبری له پیل نه په سمه توګه نو وی را پیل شوی. ولی؟

ځکه د امریکا دولت باید د خبرو نه د مخه د افغان دولت سره د سولی په اجندا خبری کړی وایی ، چی تر ننه دا اجندا معلومه نه ده ، خو یواځی وای چی خبری ښی روانی دی.

د جرګی د اصولو له مخی باید د هر ډول خبرو نه مخکی د افغان دولت او طالبانو تر منځ اور بند تامین شوی وايي. برخلاف د خبرو د پیل سره په هیواد کی جګړی زور و موند او دواړو لورو ته تلفات ځو برابره شول.

د امریکا د دولت استازی باید د سولی د دوه طرفونو په توګه یواځی د افغان دولت او طالبانو سره خبرو ته ادامه ورکړی وایی، نه د سیاسیونو په نوم د هر بیواکه او د دولت نه د ګوښه شوو عناصرو سره.

اوس چی دا یو کار هم و نه شو خیر دی د سولی خبری لا روانی دی او افغان ولس لاهم هیله من دی چی دا خبری به خپل اصلی مسیرته رابرابری او د موجود نظام حفاظت ته به پکی پوره پاملرنه وشی.

تر کومه ځایه چی د ټولنیزو رسنیو د را پورونو نه حدس وهل کیږی د افغان ولس مطلق اکثریت خصوصاً د لوستو او منورینو له دریځ څخه داسی ښکاری چی دوی د مؤقت حکومت د جوړیدو سره په کلکه مخالف دی او کله هم داسی سوله نه غواړی لکه اتلس کاله وړاندی چی یی په طالبانی رژیم کی لرله.

افغانان سوله غواړی خو داسی سوله چی د دوی ټول انسانی حقوق پکی په سمه توګه و ژغورل شی.

افغان د طالبانو سره د سولی د خبرو واک یواځی د مرکزی حکومت سره بولی او نوری ټولی ډلی او سیاسی څیری چی په سوله کی ورته د ګډون ارتیا لیدله کیږی د دولت د مشرتابه لاندی د سولی په خبرو کی را شریکیدلی شی نه د کوم بل مستقل هویت له مخی.

او وروستی خبره دا چی سوله د سازشونو او په ملی کټو باندی د معاملی له مخی نه شی را تللی. نو طالبان ، د هغوی داخلی او خارجی حامیان او د سولی د خبرو ټول طرفداری خواوی باید په شریکه د افغانستان د موجوده نظام په چوکاټ کی د یوی داسی سولی د راتلو په لار کی هڅی وکړی چی د هر افغان وګړی انسانی حقوقه پکی خوندی پاتی شی. او ټول افغانان لکه خویندی او ورونه د خپل هیواد په آبادی او سوکالی کی په پوره آزادی سره برخه واخستلی شی.

د همداسی یوی تل پاتی سولی په هیله. پای.

د اپریل/ ۸/ ۲۰۱۹ تورنتو ـ کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

سوله د نظام د جوړښت د پاره نه د تخریب د پاره
kliwal_s_sola_denezaam_dejolesht_depaara.pdf